زاهدالله ځلاند

کله چې تاسو په فېسبوک کې د يو چا سره چېټنګ/بنډار کوئ؛ نو د نوټيفيکېشن/ يادښتونو څخه تنګېږئ. فېسبوک هم ګام اخيستی او اوس تاسو کولای شئ، چې يوازې د يوې بېلې وېبپاڼې څخه د دغې ستونزې د هواري لپاره د فېسبوک له ملګرو سره بنډار وکړئ.

ده، چې په مرسته يې تاسو يوازې د فېسبوک له messenger.com د فېسبوک له لوري دغه جوړه شوې وېبپاڼه ملګرو سره، پرته له دې چې د خوښونو يا لايکونو او د لوبې د بلنې له نوټيفيکېشن څخه تنګ شئ، بنډار کولای شئ.

د فېسبوک مسنجر اپلېکېشن له دې وړاندې يوازې په موبايلونو کې کار کاوه؛ خو اوس د فېسبوک کاروونکي کولای شي، چې په خپل کمپيوټر کې هم د دغې وېبپاڼې په مرسته فېسبوک مسېنجر وکاروي.




د دغې وېبپاڼې لپاره تاسو کوم ګېون يا اکاونټ جوړېدلو ته اړتيا نه لرئ او کولای شئ، چې د خپلې فېسبوک آی ډي. په مرسته، دغې وېبپاڼې ته ننوځئ

زاهدالله ځلاند